## بسم الله الرحمن الرحيم

## د حکومت جوړښت

## د نامشروع ګټه اخیستونکو سیاستوالو له لوري د یوه ناکام او کاواکه نظام اداره کول!

د یوه کال په تېرېدو سره به ډېر لږ داسې وخت په لبنان کې تر سترګو شوی وي چې یاد هیواد له داخلي کړکېچ، ناکامو او بې ګټو سیاستونو پرته لیدل شوی وي... فرانسې د خپلو ښکېلاکي ګټو په موخه د لبنان د خلکو د وینو په بیه یاد هیواد تاسیس کړ، اسلامي فضا یې له منځه یووړه او هر ټبر یې په لړکیو واړاوه، ترڅو په دولتي نظام کې دننه هر ټبر د چوکیو لاسته راوړولو لپاره مبارزه وکړي. له همدې امله همدغه قومپالنې د هیواد سیاسي، اقتصادي او امنیتي بنسټونه زیانمن کړل او د دې هیواد په خلکو کې یې کرکه او دښمني پیدا کړه.

بیا په ۱۹۷۵م کې تر پیل شوې کورنۍ جګړې وروسته د لبنان دولت د امریکا له لوري میراث شو او هرڅه پکې ګډوډ شول. د طایف د تړون پر بنسټ په لبنان کې «ګډه کابینه» رامنځته شوه. د طایف تر تړون وروسته به په منځنۍ توګه  په لبنان کې هر کال یو بشپړ او بل نیم حکومت تشکیلېږي. په ۱۳ کلونو کې وروسته تر دې چې د سوریې رژیم له لبنان څخه جلا شو، د څلورو کلونو لپاره په نوبت سره مستعفي حکومتونه درلودل. ځکه نو «منظم» فساد او د ونډو تر نامه لاندې د عامه شتمنیو چور په ډېرېدو شو.

پارلماني ټاکنې د ۲۰۱۸م د مې پر ٦ مه ترسره شوې، چې پکې ګډون د استازیتوب له تناسب سره سم ۴۹ سلنې ته را ولوېد، لبنان د جوړېدونکي حکومت پړاو ته دننه شو او سعد حریري پکې منتخب ولسمشر شو، چې له دې سره سم نوې ستونزې رابرسېره شوې. لومړی د پوځ او د دورزي (**Druze**) مذهبي ډلې ترمنځ لانجه راپورته شوه، وروسته لبناني ځواکونو چې کابو پنځه میاشتې یې همدلته تېرې کړې او ټولې ښکېلې غاړې د یوه حکومت پر جوړېدو سره سلا شول! چې ناڅاپه یوه بله نوې لانجه رابرسېره شوه، چې ایراني پلوی ګوند به له سني متحدینو څخه یو اضافه وزیر چې بشارالاسد ته وفادار وي په کابینه کې زیات کړي. لکه څرنګه چې د دورزي مذهبې ډلې او ځواکونو تر منځ د لانجې د حل وړاندوینه نه وه شوې، نو د یاد خنډ د یوې خواته کولو په موخه د حکومت موده نوره هم وغزېده. امریکا په لبنان کې ډېر نفوذ لري، داسې ښکاري چې په اوس وخت کې د حکومت تشکیل بېړنی نه ګڼي.

پر ولید جنبلاط او سمیر جعجع باندې سخت لفظي بریدونه د ایراني پلوي ګوند (حزب الله) د مشر له وروستۍ وینا څخه په ډاګه ښکاري. دا کار تر هغې وروسته ترسره شو چې دواړو، ولسمشر او د وطنپالنې آزاد حرکت (Free Patriotic Movement) مشر د تېرو میاشتو په ترڅ کې پر دوی باندې لفظي بریدونه وکړل. په داسې حال کې

چې د راتلونکي حرکت (Future Movement) مشر سعد حريري په دغې ټوله موده کې تر هغه وخته پر خوله لاس ايښی و، چې له سنيانو څخه هغه وزيران چې بشار رژيم ته وفادار وو، وړانديز شول، چې دې کار نوو مصلحتونو ته لاره هواره کړه او په دې سره د مصلحتونو له لارې د ولسمشر او ولسمشرۍ کړکېچ ته د پای ټکی کېښودل شو! دا هغه وخت و چې ايراني پلوی گوند (حزب الله) د امريکا د بنديزونو په تړاو مخالفين نه درلودل. د ټرمپ اداري غوښتل چې د ايران اغېز او نفوذ په دې سيمه کې ځکه پای ته ورسوي چې رول يې پوره او په بېلا بېلو کړکېچونو کې ترې کار واخيستل شو. تېره مياشت د امريکا د بهرنيو چارو په وزارت کې د شام د چارو مرستيال او د سوريې لپاره ځانگړي استازي جول رايبورن له منتخب لومړي وزير سعد حريري او د لبنان د مرکزي بانک له رييس سره ليده کاته درلودل او پر ايران او ايراني پلوي گوند (حزب الله) باندې يې د بنديزونو د پلي کولو په تړاو بحثونه وکړل. د دې کار په دوام د لبنان ولسمشر د ايراني پلوي گوند (حزب الله)  په تړاو يوه بېله پرېکړه تصويب کړه، چې يوه سني څېره به د وزير په توگه ټاکل کېږي. چې همدغه کار ايراني پلوی گوند سخت په غوسه کړ او د گوند عمومي سر منشي تېره اونۍ توندې څرگندونې وکړې او د حکومت تشکيل يې ټکنی کړ.

دغې لانجې، که څه هم په بېلا بېلو بڼو راټوکېږي، چې په حقيقت کې د ټولو موخه د حکومت په دننه کې د ډلو او پلانونو تپل دي، ترڅو امريکايي اييتلاف له خنډ او ځنډ څخه پرته پر هغو گوندونو خپلې پرېکړې وتپي چې اروپا پلوي دي، په ځانگړې توگه وروسته له سيدار کنفرانس څخه چې له مخې يې ۱۱ مېليونه ډالر امتيازي پور لبنان ته ورکړ.

لبنان خپلواک دولت نه دی او د نورو اسلامي خاورو په څېر يوازې په نامه «خپلواک» دی... امريکا په لبنان کې ټول اړخونه مهاروي، پرېکړه کوي چې کله به حکومت تشکيلېږي او کله به منحلېږي او وروسته د سياست او حاکميت ملاتړي د توکمونو مشران يادې پرېکړې عملي کوي او د هيواد خلک به يې بيه پرې کوي چې ياد تاوتريخوالی تجربه کوي.

د لبنان د خلکو ژغورنه لکه څرنگه چې موږ مخکې ويلې وو او بيا ځلي وايو په دې کې ده: «لبنان يوه کاواکه او ناکامه اداره ده، چې د دولت هيڅ اساسات نه لري او د نظام په دننه کې د اصلاحاتو راوستلو امکان پکې نشته. د فاسدو مقرارتو پر بنسټ يوه اداره ده او ټول تشکيل يې له نامتاجانسو ډلو څخه جوړ دی.

د لبنان د خلکو ژغورنه په دې کې ده، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر طريقه د ريښتيني راشده خلافت تر حکم لاندې د اسلامي نړۍ يوه برخه وگرځي، د ښکېلاکگرو لاسونه لنډ کړي، د ونډو او فساد پر بنسټ سياسي نظام له منځه يوسي او له داسې نظام سره يوځای شي چې د خلکو پالنه کوي، نه دا چې له خلکو ماليه واخلي. هغه دولت چې له عقيدوي توپير پرته د خپلو وگړو د چارو پالنه کوي، په خلکو کې د توکمپالنې روحيه له منځه وړي او د شخړو لړۍ چې خلک اوس پکې راگير دي له منځه وړي او خلک هغه عادي ژوند ته چې لسيزې مخکې

يې درلود بيايي، يانې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر طريقه د راشده خلافت تر حکم لاندې ژوند ته يې ستنوي...

او دغه اوسني سياستوال به خپل امت او خلکو سره د خيانت او کفر او لويديځو اشغالگرو ته د سجدې له امله مسول وګڼل شي.

**﴿وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ﴾**

[الشعرا: ٢٢٧]

*ژباړه: او ظالمانو ته به ډېر ژر معلومه شي چې هغوی له څه برخليک سره مخامخ کېږي.*

**حزب التحرير- ولايه لبنان**

**١۴۴٠ هـ.ق د ربيع الاول ٩ مه**

**٢٠١٨ م د نومبر ١٧ مه**

**ژباړه: عبدالله لطفي**